# مطبوعاتي اعلاميه

## د هند مظلوم کروندګر په پاکستان کې د خلافت پر اړتیا پسې خپه دي، ترڅو په سیمه کې د اسلام سرپرستي بیا پیل کړي

کله چې د ۲۰۲۰م کال، د سپټمبر په ۱۷مه هند لوک سبا د کرهنې درې قوانین تصویب کړل؛ چې ګټې یې په غیر عادلانه توګه د کوچنیو بزګرانو پر ځای د لویو شرکتونو بزګرانو ته ورکولې، هند د بېوزلو بزګرانو لاریونونو ولړزاوه. دغه ناوړه حالت د انسان په لاس د جوړ شوي قانون د نړۍ د لویې ډیموکراسۍ ترخه ثمره ده. په داسې حال کې چې د هند لویې وچې د اسلام او د هغه د کرهنې قوانینو لاندې د ټولې نړۍ ۲۳٪ اقتصاد تشکیلولو چې د عالمګیر اورنګزیب په وخت کې ۲۷٪ ته لوړ شوو.

نن ورځ هم یوازې اسلام کولای شي چې د هندوستان غمځپلو بزګرانو د ژوند هوساینه تضمین کړي. هغه بزګران چې د قانون په واسطه ځان وژنې ته اړ کېږي او فشار ورباندې راوړل کیږي تر څو د لویو شرکتونو بزګرانو ته لاره هواره شي. د اسلام د کرنې قانون د کرنیزې ځمکې مالکیت د ځمکې له کښت سره تړلی دی. د هغو خلکو لپاره چې لږ امکانات لري د ښه عاید لپاره یې ورته ډېر فرصتونه چمتو کړي دي. د کرنیزې ځمکې مالک باید خپله ځمکه په خپله وکري او یا یې بل چا ته ورکړي، چې یې وکري. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ»**

**ژباړه:** *«هر څوک چې ځمکه لري، باید ویې کرئ او یا یې خپل ورور ته ورکړي.»* [بخاري]

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځمکې له مضارعت څخه هم ډډه کړې ده:

**«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَنْ يُؤْخَذَ لِلأَرْضِ أَجْرٌ أَوْ حَظٌّ»**

**ژباړه:** *«رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې چې ځمکه د په اجوره او یا هم د حاصلاتو په یوه برخه ورکړل شي، ډډه کړې.»* [مسلم]

سربیره پردې، اسلام اجازه ورکړې، چې یو سړی د داسې ځمکې مالک شي چې د هیچا ملکیت نه وي. بخاري له عایشې(رض) څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ أَعْمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لأَحَدٍ فَهْوَ أَحَقُّ»**

**ژباړه:** *«هر څوک چې داسې ځمکه وکري چې د هیچا ملکیت نه وي نو دغه سړی یې مستحق دی.»* [بخاري]

سربېره پردې، اسلام په کرنیزو محصولاتو هر ډول مالیه منع کړې ده، چې د تخمونو، حشره وژونکو موادو او کیمیاوي سرو قیمتونه را ټیټوي. اسلام د انرژۍ سکټور د عامه ملکیت په توګه اعلانوي نو کروندګر برق او تیل په مناسبه بیه ترلاسه کولای شي.

**ای د پاکستان مسلمانانو!**

موږ د هند د لويې وچې د اصلي ساتونکو اولادونه یو او باید خپل سم دریځ ته ادامه ورکړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«عِصَابَتَانِ مِنْ أُمَّتِي أَحْرَزَهُمَا اللَّهُ مِنْ النَّارِ عِصَابَةٌ تَغْزُو الْهِنْدَ وَعِصَابَةٌ تَكُونُ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَام»**

**ژباړه:** *«زما د امت څخه دوې ډلې به الله سبحانه وتعالی د دوزخ له اوره ساتي: یو هغه ډله چې هندوستان ازادوي او بل هغه ډله چې له عیسی ابن مریم (ع) سره وي.»* [احمد-النسائی]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مبارک تقریر چې زموږ د سیمې د راتلونکې په اړه د الله سبحانه وتعالی له وحې پرته بل څه نه دي. دغه مبارک حدیث زموږ لپاره خبر دی چې باید عمل ور باندې وکړو. او دا د اسلامي امت جمعي مکلفیت دی چې ټول هندوستان اسلام ته چمتو کړو. په هر صورت د هند د غزوې (د هند ازادول) افتخار او عزت د پاکستان د اوسنیو واکمنانو تر بصیرت لاندې هېڅکله نه شي را تللای، ځکه چې دوی د امریکا پلان ته تسلیم شوي دي. زموږ د پیاوړي نظامی قدرت په مهارولو سره د هند دولت ته اجازه نه ور کوي تر څو د غښتلي سیمه ییز واکمن په توګه را پورته شي. دا زموږ ټولو دنده ده چې د ټولې سیمې د اوسېدونکو د سرپرستۍ لپاره د مذهب، ژبې او نژاد په پام کې نیولو پرته د نبوت پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړو.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، جمادي الثاني ۲۲مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۴مه**

**د صدور گڼه: ۴۷/ ۱۴۴۲**